چا چې لس ځلې: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) وويل

له ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې لس ځلې: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) وويل: نو په اجر کې داسې دی لکه چا چې د ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه لس غلامان ازاد کړي وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير» وويل: چې معنا يې ده: له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی شريک نه لري، او هغه پاک ذات لره يوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظيم سره د ثنا او ستاينې وړ دی او دا چې هغه قادر دی او هېڅ شی يې نه شي عاجز کولای. نو چا چې دا لوی ذکر په يوه ورځ کې لس ځلې تکرار کړ؛ نو دومره اجر يې تر لاسه کړ لکه چا چې د اسماعيل عليه السلام د اولادې له څلورو غلامانو څخه د غلام ولکه لرې کړي وي (يعنې ازاد کړي يې وي)؛ او د ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه لدې امله يادونه وشوه چې هغوی له نورو زيات شرف لري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5517